


CONNECT کډوالو ښځو لپاره برلین کې د سرپرستی پروګرام
یوازې د ښځو لپاره او یوازې د برلین لپاره!

## CONNECT څشی دی؟

CONNECT د TERRE DES FEMMES لخوا د مرستې یو پروګرام دی ښځې لپاره د بشري حقونو سازمان برلین کې کډوالو ښځو لپاره. داسې اعزازي سرپرستې ښځې چې په برلین کې اوسېږي او یو بل له مخکې ښه پېژني، به ستاسو د مرستې لپاره ستاسو په څنګ کې ولاړې وي. CONNECT یوه د ښځو لخوا د ښځو لپاره پروژه ده. ددې په شا فکر دا دی چې سرپرستانې د کډوالو ښځو المان ته په رارسېدلو سره د هغوی مرسته وکړي. ددې معنی د بېلګې په توګه دا کېدلی شي چې یوه سرپرسته د یوې کډوالې ښځې سره د هغې د پناډهندګۍ په کار کې ورسره ولاړه وي، د کور په لټون کې ورسره همکاري کوي او یا ورسره تولنیز او کولتوري فعالیتونه ترسره کوي. په دې طریقه کډواله ښځه په قدم المان کې له ورځنیو چارو او ژوند سره بلدېږي. سرپرستانې او کډوالې ښځې په خپل مینځ کې ښځه د ښځې سره نظر شریکولی شي او په محرمانه چاپېریال کې په پوښتنو خبرې کولی شي. د CONNECT هدف دا دی چې تا ته په دې کې قوت درکړل شي او تشویق شي چې په المان کې په خپله یو خپلواک او ازاد ژوند کولی شې.

## ولې CONNECT ؟

TERRE DES FEMMESد ښځو د حقونو د اداري په صفت المان ته د رارسېدلو کډوالو ښځو د CONNECT له لارې مرسته کوي. څکه هغه ښځې چې مونږ سره د امنیت په لټون وي، د سترو ننګونو سره مخ وي. په هغوی کې ډېرې په خپل وطن کې او/یا د تېښتې پر مهال د تاوتریخوالي سره مخ شوي وي. په هغوی کې ډېرې داسې دي چې وطن کې یې له دې امله چې ښځې وې زده کړې نه وې ترلاسه کړې، لوستلی نشي او یا په بله کومه ژبه ښېځې خبرې نشي کولی. هغه کډوالې ښځې چې ماشومان ورسره وي هم په خپل حرکت کې محدودې وي. مخکې له دې چې هغوی خپله د ژبې کورس ته لارې شي او یا د کار لټون وکړي غواړي چې لومړی د ماشومانو پوره غم وغورل شي. دا په ټولنه کې د ګډون کولو او ادغام په لاره کې هغه خنډونه دي چې ښځې ورسره په ځانګړې ډول مخ کېږي او د کومو په حل کولو کې چې مونږ تاسو سره مرسته کول غواړو. د CONNECT د سرپرستی د پروګرام له لارې مونږ د کډوالو ښځو په څنګ کې ودرېدل غواړو او غواړو چې هغوی ته په دې کې قوت ورکړو چې المان کې د یو خپلواک ژوند د چانس څخه استفاده وکړي.

## سرپرستانې څوک دي؟

سرپرستانې داسې ښځې دي چې په برلن کې اوسېږي او مخکې نه په ټولنه کې ښې شاملې دي. هغوی به تا سره په هفته کې تقریباً یو ځل ملاقات کوي او دا به لږ تر لږه تر یو کال ادامه کوي. نو دغه سرپرسته به د یوې اوږدې مودې لپاره ستا سرپرستي کوي، ددې لپاره چې تاسو یو بل ښې ووپېژنئ او دواړه تا لپاره د مهمو شیانو اقدام او انتظام وکړای شئ. سرپرستانې زمونږ لخوا، د TERRE DES FEMMES د CONNECT ټیم لخوا په احتیاط سره غوره کېږي او په داسې کارونو لکه دلته د پاتې کېدو په حقونو، د کډوالو د حقونو، د ژبې د کورسونو د معلوماتو، د کار لټون او د ماشومانو د پالنې په برخه کې زده کړې ورکول کېږي. همدارار د خپلې خپلواکۍ قوي کول او د تاوتریخوالي د تجربو سره ژوند کول به د دې موضوع وي.

## د CONNECT طریقه کار څه ده؟

که چیرې ته د CONNECT سره علاقه لرې او غواړې چې یوه سرپرسته درسره د مرستي لپاره ودرېږي، نو مونږ سره د ایمیل له لارې تماس ونیسه او یا راته زنګ ووهه. بیا به مونږ یو ملاقات وکړو، یو بل به وپیژنو او له دې ملاقات وروسته ځومره ژر چې امکان لري تا سره به بېرته تماس ونیسو او ستا او ستا د احتمالي سرپرستې ترمنځ به د یو لومړني ملاقات انتظام وکړو. له هغې وروسته به ستاسو هره هفته ملاقات کیږي. ته په خپله فیصله کوې چې دا ملاقاتونه ځومره وخت دوام وکړي او ته پکې څه کول غواړې. مونږ د CONNECT ټیم هر وخت ستاسو د پوښتنې لپاره موجود یو او وخت به وخت به د ملاقاتونو د بدلېدلو انتظام درته کوو.

## څوک له CONNECT سره شاملېدلی شي؟

هر هغه بالغه ښځه چې د کډوالۍ تجربه لري کولی شي چې سرپرستي ترلاسه کړي، که قبولي لري یا نه لري پروا نه کوي. ددې لپاره ته باید المان کې په ژوند د بهتر پوهېدلو سره علاقه ولرې. که له سرپرستۍ سره علاقه لرې نو مهرباني وکړه په دې لمبر تماس ونیسه 0 - 99 46 50 030/40 یا په دې ایمیل ادرسconnect@frauenrechte.de .

دCONNECT ټیم تا ته سترګې په لار دی!

Gefördert durch die Aktion Mensch